مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ع . رشید

۲۰۱۸/۰۹/۱۳

# خدایه، یو نجیب نشته؟

# په وینو لژند ننګرهار ته!!



وینې دي توېږي ، سر پرې شوی شهسوار ژاړي
خدایه یو نجیب نشته ؟ سرکښه ننګرهار ژاړي

سرې سترګې په وینو مینځو، اوښکې مروري دي
ښکلي تول وروړ مرې دي لاسونو کې مو هار ژاړي

څنګه بې پښتو شولو، عزت وژنو حیا اخلو
څنګه شوو سرتیټي چې پردو ته مو سردار ژاړي

څه شودتورتم سالار، دیوال یې د برلین رنګ کړ؟
ستا له لاسه ګوره چې پښتون خوار او سنګسار ژاړي

څه شول هغه ستورې ، آه مخسورې مومندي ځوانان
څه شوه علایې ولې روښان ویار په زار زار ژاړي

وګورئ دمینې کور یې وسو دتورتم اشرار
مه څه ننګرهارته لوی ماتم لوی غفار ژاړي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

**سوځي د ايمل بچي د تور ښامار په تور وحشت**
**عقل د انسان خوار شو سره اور ته يکه زار ژاړي**

**خدايه يو نجيب نشته بيا مل شي د تنکو هيلو**
**مور او خور بې ستره  شوې په ورور پسې په پلار ژاړي**

**اور په ننګرهار بل دی ، پاچا په  غلامی  وياړي**
**شعر ژاړي ، شاعرژاړي په سروسترګو انګار ژاړي**

**ای د دنيا ربـــــــه ! زموږ  د وينو ابشار وينې**
**وياړ ژاړي ، پښتو ژاړي  د پيغلو شرنګهار ژاړي**

**خدايه يو نجيب نشته چې مل شي د ګلو دکور**
**وګورئ خادمه ، څنګه ستا کور ننګرهار ژاړي**

ع . رشيد
نوی ډيلی ،   د ۲۰۱۷ کال  لسمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ